# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱۹مه | ۵۸۳یمه ګڼه


## کتاب


۴ مخ

### د ابن خلدون مقدمه




د دغه اثر مطالعه په اوسني عصر کې بېل کیف او اغېز لري. پکار خو دا وه چې دا اثر وړاندې پښتو ته را ژباړل شوی وای، ځکه چې په اروپا کې په تحصیلي نصاب او اکاډمیکو مرکزونو کې دقیقه سرچینه شمېرل کېږي.

## کرنې وزارت: روان میلادي کال په هېواد کې ۸۵۸۷ مټریک ټنه اصلاح شوي تخمونه پر بزګرانو وېشل شوي



کرنې او مالدارۍ وزارت د ۱۳۹۹یم مالي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې پر بزګرانو اته زره او ۵۸۷ مټریک ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشلي دي.
دغه اصلاح شوي تخمونه د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د بزګرانو د ملاتړ، د کرنې پراختیا، د خوړو خوندیتوب او د زیانمنو کورنیو د عوایدو زیاتولو په پار وېشل شوي دي.
دغه راز د کرنې وزارت د خوړو د خوندیتوب او د کورنیو د معیشت ښه کولو په پار د غلو دانو، حبوباتو، د مالدارۍ او بڼوالۍ محصولاتو د زیاتولو له لارې له هغو بزګرانو چې له خپل لګښتونو څخه ډېر غنم ولري، اووه زره او ۵۰۰ مټریک ټنه غنم پېرې او ستراتېژیکو زېرمو ته یې لېږدي.
د دغو غنمو د پېرلو لړۍ ۲۰ سلنه بشپړه شوه او ټاکل شوې چې د روان مالي کال تر پایه یې د پېرلو لړۍ بشپړ شي.

# د خپلواکۍ ۱۰۱مه کلیزه؛

## د خپلواکۍ جشن په ګڼ شمېر ولایتونو کې په شاندارو مراسمو ونمانځل شو



### د خپلواکۍ تکرار ته اړتیا ده

۲ مخ

### شي جین پېنګ: د چین او افغانستان ترمنځ اړیکو ته په درنه سترګه ګورم

۲ مخ

### هغه چلندونه چې جوړې بریالۍ او نېکمرغه کوي

۳ مخ

## طالبان: د هېواد داخلي اړخونه دې د خپلواکۍ لپاره د ولس غوښتنې په پام کې ونیسي

طالبان په تازه اعلامیه کې ویلي چې د خپلواکۍ لپاره دې په هېواد کې داخلي اړخونه د ولس غوښتنې په نظر کې ونیسي او د سیمې هېوادونه دې د افغانستان خپلواکۍ او موخو ته د رسېدو په لاره کې مرسته وکړي.
طالبانو له برېټانوي ښکېلاک څخه د خپلواکۍ ګټلو د ۱۰۱مې کلیزې په مناسبت په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي: «څنګه چې نن موږ یو ځل بیا د خپلواکۍ په درشل کې یو، نو په ټولو داخلي اړخونو غږ کوو، چې نور د ملت ارمانونه او حقیقي غوښتنې په نظر کې ولري او د خپلواکۍ د داعیې ملاتړ یې وکړي.»
د یادې خبرپاڼې له مخې، طالبانو له نړیوالو او د سیمې له هېوادونو غوښتي چې د افغانستان په قضیه کې له خلکو سره د بیا استقلال او خپلو مشروع موخو ته د رسېدو په لاره کې مرسته وکړي. سرچینه کاږي، دوی په داسې حال کې له انګلیسي استعمار څخه د خپلواکۍ بېرته اخیستلو له امله خلکو ته مبارکي وایي چې د دوی په خبره، د کامیابۍ درشل ته نږدې شوي دي. د سرچینې په خبره: ((موږ به د خپلواکۍ ګټلو او په هېواد کې د سوچه اسلامي نظام د ټینګښت لپاره په ټول توان سره هر اړخیزه مبارزه جاري ساتو او چا ته به اجازه ورنه کړو چې زموږ دغه ارمان ته د رسېدو په لاره کې خنډ شي.»
دا په داسې حال کې ده چې له طالبانو سره د سولې لپاره د بین الافغاني خبرو د پیلېدو په موخه حکومت وروستی خنډ د هغو حکومتي اسیرانو خوشې کول یادوي چې له طالبانو سره بندیان دي.

## ټولې خواوې دې په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر کمولو غور وکړي



۵ مخ

## حامد کرزی: مردم آرزوی افغانستانی را دارند که هیچ بیگانه ای در آن حق مداخله نداشته باشد



رئیس جمهور پیشین کشور می گوید ، افغانها هیچ بهانه‌ای برای به تاخیر انداختن مذاکرات صلح از هیچ یک از جوانب افغان و یا خارجي نخواهند پذيرفت وآرزوی افغانستانی را دارند که هیچ بیگانه یي در آن حق مداخله نداشته باشد.
حامد کرزی رئیس جمهورپیشین کشور این مطلب را درپیام خود به مناسبت یکصدو یک مین سالروز استرداد استقلال کشور ابراز کرده است .
در پیام رئیس جمهورپیشین کشور یک‌صدویکمین سالگرد استقلال کشور به همه مردان و زنان این سرزمین مبارک باد گفته شده است .
حامد کرزی گفته است: ))یکصد و یک سال پیش از امروز نیاکان بزرگوار ما با سلحشوری و جانبازی و با اتحاد و همدلی به سلطۀ استعمار در سرزمین ما پایان دادند. درفش پرافتخار این میهن بر فراز قله‌های شامخ کوه پایه هاي وطن به مثابۀ نماد جاویدانی این ملت به اهتزاز درآمد. غازیان نامدار و فرزندان غیور این کشور پس از کسب استقلال در تلاش گشودن دروازه‌های ترقی و آزادی برای همه باشندگان این سرزمین شدند. کسب استقلال محصول اتحاد و هم‌دلی همه باشندگان این سرزمین و عشق پرشور شان به آزادی و آزادگی بود.((
دربخشی از این پیام خاطر نشان گردیده که، هرچند آرزوهای مقدس نیاکان ما در پیوند با کسب استقلال تحقق یافتند اما بار دیگر وطن ما در یک قرن گذشته مورد تهاجم ها و تجاوز هاي بیگانگان قرار گرفت.




## دریـــځ

### د خپلواکۍ تکرار ته اړتیا ده

لـه نـن څخـه (۱۰۱) کالـه وړانـدې افغـان ولس د غـازي امـان الله پـه مشرۍ لـه برېټانـوي ښـکېلاک څخـه ازادي واخیسـته. کـه څـه هـم برېټانـوي ښـکېلاک بیـا بیا پـر افغانسـتان یرغـل وکـړ، وژنـې او وحشـت یـې وکـړ، خـو افغـان ولس تسـلیم نـه شـو، برېټانویانـو تـه یې سختې ماتې ورکړې او بالاخره هغوی اړ شـول چـې د افغانسـتان خپلواکـي ومنـي. مـوږ هغـه وخـت خپلواکـي واخیسـته، خـو د غـازي امـان الله خان ځینـو تېروتنـو او د انګریزانو دسیسـو بلـه سـتونزه جـوړه کـړه او زمـوږ خپلواکـۍ پـه ښـه ډول دوام ونـه کـړ. لـه تېـرو څلـورو لسیزو راهیسـې مـوږ یـو ځـل بیـا د بلواکـۍ پـه اور کې سـوځو او لا هـم لـه دې حالـت سره مخ یـو.

مـوږ برېټانـوي ښـکېلاک مـات کـړ، مـوږ شـوروي اشـغالګر پـه ګونـډو کـړل، خـو بیـا هم د یوویشـتمې پېړۍ لـه ښـکېلاکي ځـواک سره مخ ش،و. لـه تېـرو شـلو کلونـو راهیسـې بیـا له امریکایـي ښـکېلاک سره مخ یـو چـې ښـه یـې متفاوتـه ده. امریکایـي ښـکېلاک د سیمې هېوادونـو پـه ځانګـړي ډول د پاکسـتان پـه مرسـته پـر افغانسـتان یرغـل وکـړ او بیـا یـې د جګـړې د دوام لپـاره هـم له پاکسـتان څخه کار واخیسـت. لـه همدې املـه شـل کاله بیـا موږ په اور او جګـړه کـې را ګیـر یـو. زمـوږ کلي او کورنه بمبـاري شـول، ممنوعـه وسـلې وکارول شـوې، پـه ښـارونو کـې بریدونه وشـول او لـه ځمکې او هـوا د افغانسـتان انسـان د وژنـې هڅـې روانـې وې چـې پکـې سـلګونه زره افغانان ووژل شـول.

لـه اوږدو جګـړو وروسـته اوس یـو ځـل بیـا یـو چانـس شـته، د خپلواکـۍ چانـس او مـوږ بایـد خپلـه خپلواکـي ترلاسـه کـړو. بایـد دا ځـل لـه تاریـخ څخـه زده کـړه وکـړو او پـرې نـه ږدو چې دا لاسـته راغلـی چانـس یـو ځـل بیـا ضایـع شي. اوس هغـه وخـت دی چـې د نـورو په لومو کـې را ګیـر شـوي افغانـان هـم لـه دې چانس څخـه اسـتفاده وکـړي، خپـل ځـان د نـورو لـه منګولـو لا خـلاص کـړي او پـه دې ډول د ځـان او افغانسـتان لـه خپلواکـۍ سره مرسـته وکـړي.

مـوږ پوهېـږو چـې پـه کابـل کـې چارواکـي خپلواک نه دي او آن د اسـټرالیا په شـان هېواد هـم زمـوږ پـه چـارو کـې لاسـوهنه کوي. موږ په دې هـم پوهېـږو چـې طالبان خپـل تړاوونه لري او همدغو تړاوونو سـتونزې جـوړې کړې دي. له همـدې املـه پـکار ده چـې دواړه لـوري د ولس پـه مرسـته د یـو واحـد او خپلـواک دولـت لپـاره کار او هلـې ځلـې وکـړي.

دا ځـل د خپلواکـۍ لپاره لاره د سـولې لاره ده. پـه دې لاره کـې افغانـان بایـد یـو بـل ومنـي. اوس وخـت دی چـې پـر بهرنیـو تکیـه ونه شي، د بهرنیـو ځواکونـو د پاتـې کولـو او جګـړې هڅه ونـه شي. اوس بایـد هر لوری د سـولې په لوري ګامونـه واخلـي او سـوله مـوږ واقعـي خپلواکـۍ تـه رسـولی شي. کـه څـوک اوس هـم سـتونزې جـوړوي، د جګـړې دوام تـه لاره پرانیـزي او نـه پرېـږدي چـې بیـن الافغانـي خبرې پیـل او بریالـۍ شي، نـو دوی د خپلواکـۍ دښـمنان او د نـورو مزدوران دي. د امان الله خـان رښـتیني لارویـان، د خپلواکـۍ مینـه وال او رښـتیني افغانـان هغـه دي چـې د افغانانـو ترمنـځ جوړجـاړې او د پردیـو وتـل غـواړي او د همـدې لپـاره هڅـه او مبـارزه کوي. په سـوله او یـو ټغـر را ټولېـدل او د بهرنیـو لـه حضـور څخـه د افغانسـتان پاکـول د خپلواکـۍ یوازینـۍ او کارنـده لاره ده.

# افغانستان او د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو اړوند د ملګرو ملتونو ۱۹۹۷ کنوانسیون؛ فرصتونه او اندېښنې

څېړنه: برکت الله آریوبي

درییمه برخه:

د الحاق فرصتونه

څـو دلیلونـه شـته چـې د افغانسـتان الحـاق کنوانسـیون تـه توجیـه کـوي: لومړی؛ دا چې د ۱۹۹۷ کال کنوانسـیون پـه حقیقـت کـې پـه نړیوالـه کچـه د یـو معتبـر حقوقـي نهـاد (نړیوالـو حقوقـو کمېسـیون) د کار پایلـه وه. د دې کنوانسـیون منـدرج مـواد د هېوادونـو لـه ملـي حقوقـو، نړیوالـو موافقـت نامـو، نړیوالـو محاکمو فیصلـې او د حقوقپوهانو مطـرح نظریـات تشـکیلوي. لکه څـه ډول مـو چـې مخکـې هـم یادونـه وکـړه، د دې کنوانسـیون ځینـې مهـم مـواد لکـه د «معقولانـه او منصفانـه ګټـه اخیسـتنه»، «د پـام وړ ضرر نـه رسـول»، د «پلان شـویو اقداماتـو پـه اړه خبر ورکول» او داسـې نور هغـه څـه دي چې په نړیوالـه کچه نورمونه دي او د عـرفي نړیوالـو حقوقـو برخـه ګرځیدلـې دي؛ که چیرې کـوم دولت یې غـړی وي او یـا نـه وي، ملـزم دی چې دې قواعـدو تـه غـاړه کېـږدي او لـه خپلـو پوله تیریدونکـو اوبـو څخـه پـه ګټنـه کـې باید دې نورمونـو تـه پـام وکـړي.

پـه نړیوالـه کچـه د نړیوالـې قضایـې رویې او د متحـده ایالاتـو محاکـم تصمیـن نیوکـه کـړې چـې تر مخـه یـې د ایالاتو تر منـځ مسـایل حـل شـوي او کابـو پـه ټولـو تصامیمـو کـې پـه پورتنیـو اصولـو تینګار شـوی. همـدا راز د عدالـت نړیوالـې محکمـې( ICJ) د تریـل اسـملتر قضیـه (امریـکا د کانـاډا پـر وړانـدې) حکـم وکـړ چـې ټـول دولتونـه مکلفیـت لـري چـې پـه خپـل قلمـرو کـې د فعالیتونو لـه کبله نـورو هېوادونـو تـه ضرر او زیان وانـه ړوي. (متحـد ګ. س.). همـدا راز د متحـده ایالاتـو سـترې محکمـې د «نیویـارک د نیوجـرسي پـر وړانـدې» قضیـه کـې قاضی هلمـز داسـې وایـي: «یـو سـیند یـوازې د رفاه وسـیله ده؛ سـیند یو خزانه ده. سـیند د ژونـد اړتیـا پـوره کـوي او بایـد د هغـوی ترمنـځ چـې پـرې حاکمیت لري، تقسـیم شي. د وېـش پـه برخـه کـې یـې رویـې بېلابېلـې دي او کېـدای شي مختلفـې پایلـې تـرې رامنځتـه شي، لیکـن باید هر وخـت د دې توکـي منصفانـه تخصیص په برخـه کـې هڅـه وشي». (امریـکا, ۱۹۳۱) پـه همـدې ترتیب، کابـو د نړیوالـو حقوقو ټـول کارپوهـان پـه همـدې نظر دي چې «معقولانـه او منصفانـه » ګټـه اخیسـتنه د ګـډو سـیندیزو حـوزو پـه برخـه کـې یـو اصـل دی او د نړیوالـو حقوقـو لـه عمومي پرنسـیپونو څخـه ګڼـل کیـږي، نـو ځکـه یـې رعایت پـه ټولـو هېوادونـو واجب دی. لکـه څـه ډول چـې مـک کفـري وایـي: «د منصفانـه ګټـې اخیسـتنې نظریـه چـې د امریـکا متحـده ایالاتـو تـر منـځ د دې هېـواد سـترې محکمـې له لـوري د اوبو په تخصیـص کـې رامنځتـه شـوه او له ۲۰مې پېـړۍ سرچینـه اخلـي او پـه وروسـته کـې د فـدرال نـورو محاکمـو هـم لـه دې نظریې څخـه ملاتـړ وکـړ، دا نظریـه پـه حقیقت کـې د نړیوالـو حقوقـو انجمـن لـه لـوري د ګـډو سـیندیزو حـوزو یـو اساسـي معیار او نـورم پـه عنـوان پـه هلیسـنګي قواعـدو ۱۹۶۶ کـې پـه کار یـوړل شـوه. د دې نـورم وضعیـت پـه وروسـتیو کـې د عدالت نړیوالـې محکمـې لـه لـوري هـم د تایید وړ ګرځېدلـی، نـو ځکـه د ۱۹۹۷ کال کنوانسـیون د نړیوالو ګډو سـیندیزو حوزو څخـه پـه ګټـه اخیسـتنه کـې پـه رسـمیت پېژندلـی.

د نړیوالـو حقوقـو یو بـل کارپوه وایـي: «دا کنوانسـیون پـه پراخـه توګـه منـل شـوی او پـه دې اړه پـراخ توافـق شـته چـې د ۱۹۹۷ کال کنوانسـیون د نړیوالـو حقوقو اساسي نورمونـه او معیارونـه ولـري چـې د اوبـو لـه منابعـو څخه ګټه اخیستلو کـې د (عـرفي نړیوالـو حقوقـو) برخه تشـکیلوي. (سلمان, ۲۰۱۲)

نـو پورتنیـو تذکراتـو تـه پـه کتـو ویلای شـو چـې د «معقولانـه او منصفانـه ګټـې اخیسـتنې اصـل»، او همـدا راز د «جـدي ضرر نـه رسـولو اصـل» پـه حقیقت کـې د نړیوالـو عرُفي حقوقـو برخـه ده چـې ټول دولتونـه د افغانسـتان په شـمول په مراعت یـې ملـزم دي. نـو ځکـه کـه افغانسـتان دا کنوانسـیون تصویبـوي، د دې هېـواد پـر حقوقـي وضعیـت د پـام وړ تغیرات نـه تحمیلـوي او یـا پـه بـل عبـارت کـوم ځانګـړی بـار پـه دې هېـواد نـه بارېږي.

دویـم؛ دا چې لکه څـه ډول چې د نړیوالو حقوقو کارپوهان وایي، د دې کنوانسـیون تصویـب د ټولـو هېوادونـو پـه ګټـه دی. کـه چیرې افغانسـتان د دې کنوانسـیون غړیتـوب اخلـي، د دې کار پـه کولـو سره ټولـې نړۍ تـه ښـیي چـې لـه قانـون څخه وېـره او ډار نـه لـري او د یـو متمـدن دولت پـه حیـث نړیوالـو حقوقـو او اصولـو تـه د مسـوول دولـت پـه توګـه احـترام لـري. دا اسـتدلال د افغانسـتان لپـاره د مختلفـو دلایلـو لـه مخـې د اهمیـت وړ دی.

الـف – افغانسـتان هڅـه کـوي چـې پـه نړیوالـه ټولنـه کـې د یـو دیموکراتیـک دولت پـه توګـه خپل ځای ثابـت کړي. له کله راهیسـې چې د طالبانو رژیم نسـکور شـو، دې هېواد پّه لسـګونه کنوانسیونونه، څـو اړخیـز تړونونـه او هوکـړه لیکونـه پـه بېلابېلـو برخـو کې تصویب کـړې دي، څو د ملګـرو ملتونـو فعـال غړي او یو مسـوول دولـت پـه توګـه خپل ځـان ثابت کـړي. د ملتونـو تاریخ دا پـه ګوتـه کوي چـې کابو ټـول دولتونـه د متحـده ایالاتـو په شـمول هڅـه کـوي چې لـه ظهور را وروسـته همدا چلنـد خپـل کـړي او د خپـل تاسـیس پـه لومړیـو کـې بـې شـمیره کنوانسـیونونه تصویـب کـړي. نـو ځکـه افغانسـتان چـې پـه نړیوالـه کچـه هـر څومـره نړیـوال معاهـدات او تړونونـه امضـا کـوي، د دې هېـواد حیثیـت او اعتبـار پـه نړیوالـه کچه ښـه کیـږي او د قانـون حاکمیت او سـوله خوښـوونکي دولـت پـه عنـوان پېژنـدل کیږي.

ب ـ افغانسـتان د ګاونډیـو پـه پرتلـه پـه اقتصـادي، سیاسـي او نظامـي لحـاظ وروسـته پاتـې هېـواد دی. زمونـږ یـو ګاونـډی د اتومـي وسـلې څښـتن دی (پاکسـتان)، ایران هـم پـه سـیمه کـې د هژمونـي هڅـه کـې دی؛ د مرکـزي آسـیا هېوادونـه هـم څـو چنـده لـه افغانسـتان څخـه پـه مختلفـو برخـو کـې پرمختللـې دي. افغانسـتان خپلـه ۹۳ سـلنه تجارتي امـوال او اجنـاس له بهـره واردوي. دا چې افغانسـتان نه شي کولای لـه اقتصادي او یـا سیاسـي او نظامـي لحاظ لـه ګاونډیـو سره رقابـت وکـړي، نو اړینـه ده چې سـوله ییـزه اړیکـې لـه ګاونډیـو سره ولـري او لـه منازعاتـو څخـه ډډه وکـړي. هـر څومـره چـې د دې سـیمې ډېر هېوادونـه د ۱۹۹۷ کال کنوانسـیون تصویب کـړي، په هماغه انـدازه بـه د دې هېوادونو مسـوولیت منل زیـات شي او دا بـه د یـو باثباتـه سـیمې له درلودلو سره مرسـته وکړي؛ داسـې سـیمه چـې پـه هغـه کـې هېوادونـه ملـزم دي او د مشـترکو منابعـو پـر سر حاکـم نړیـوال اصـول مراعـت کـوي.

ج – د کابـل پوهنتـون اسـتاد او طبیعـي پېښـو تـه رسـیده ګـي پـه موخـه د دولت وزیـر، پروفیسـور نجیـب آقـا فهیـم وایـي: «نړیـوال حقـوق د کـم قـدرت لرونکـو هېوادونـو حقـوق دي». د هغـه پـه خبـره، لـوی او قدرتمنـد هېوادونـه لکـه چیـن، ترکیـه، مـصر او ازبکسـتان نړیوالـو اصولـو تـه لـه ګـډو سـیندیزو حـوزو څخـه د ګټې اخیسـتنې پـه مـورد کـې عملاً کم اهمیت ورکـوي. ضمنـاً دې هېوادونـو پـه یو اړخیز ډول پـه مشـترکو سـیندیزو حـوزو لویـې پروژې تـرلاس لانـدې نیولـې دي او یـا یـې هـم تکمیـل کـړې دي، پرتـه لـه دې د نـورو اوبیـزو ګاونډیـو اندېښـنې او یا هم د نړیوالـو حقوقـو اساسـي نورمونـه پـه نظر کـې ونیسـي. نـو دا چـې افغانسـتان لـه یـوه اړخـه پـه ځـان بسـیا نـه دی او لـه بل لـوري قدرتمنـد نـه دی، نو ځکـه زمونږ په شـان هېوادونـو لپـاره پـه نړیوالـو حقوقـو اسـتناد یوه ښـه وسـیله ده چـې پر اسـاس یـې د لویـو قدرتونـو قـدرت پـه مقابل کې کارولای شـو. نوموړی وایـي، سره له دې د اکثریـت افغانانـو تصـور د هغـه څه خلاف دی چـې کنوانسـیون یـې پـه ځـان کـې رانغـاړي، لکـه د «معقولانـه او منصفانـه ګټـې اخیسـتنې اصـل» د «پـام وړ ضرر نـه رسـونې اصـل» او داسـې نـور، لیکـن د دې کنوانسـیون تصویب او ورپورې الحاق کېـدلای شي د افغانسـتان لویـې ګټـې تامیـن کـړي او پـه عین حال کـې دا چاره کـولای شي لـه نـورو اوبیـزو ګاونډیـو سره پـه تعاملاتـو کـې د افغانسـتان موقف قوي کـړي.

د – د پولـه تیریدونکـو اوبو پـه اړه د افغانانو عامـه پوهـاوی تـر خطـر کچـې کـم دی. کابـو ټـول افغانـان، د سیاسـتوالو، ملـي شـورا غـړو، سیاسـي احزابـو، فرهنګیانـو، محصلینـو او عـادي وګـړو بـاور دا دی چې افغانـان د ټولـو هغو اوبو مالـکان دي چې د هېـواد پـه پولـه تیریدونکو سـیندونو کې جریـان لـري. د دوی دلیـل دا دی چـې چـون دا سـیندونه د افغانسـتان له خاورې څخـه سرچینـه اخلـي او ډېـری برخـه یې پـه هېـواد کـې دننـه بهیـږي، نو ځکـه باید پـه دې هېـواد پـورې اړه ولـري. پـه بـل عبـارت، افغانـان د پوله تیریدونکـو اوبو ته د ارضي حاکمیـت ادعا لري او عامه افکار پـه شـدت سره د دې مخالـف دي چـې ګواکـې نـور هېوادونـه دې ورڅخـه حقابه تـر لاسـه کـړي. دا ډول چلنـد د خشـونت پـه دوام کېـدای شي د ګاونډیـو سره لا د خشـونت او مناقشـاتو سـبب شي، نـو ځکـه ښـه حلـلار دا ده چـې افغانسـتان دا کنوانسـیون تصویـب کـړي، ځکـه چـې دا چـاره بـه لـه افغانسـتان سره مرسـته وکـړي څـو لـه اوبیـزو ګاونډیـو سره مذاکراتو او یو حقوقـي حللارې ته داخـل شي. یا په بله وینـا، د هېواد موجوده سیاسـي بې ثباتي او فقر تـه پـه کتو، اړینـه ده چـې د قانون لـه قـدرت څخـه ګټـه واخیسـتل شي، څـو د لـه اوبـو منابعـو څخـه د معقولـې او منصفانـه ګټه اخیسـتنې یـو موثر حقوقي رژیـم چـې ټولو لوریـو ته د منلـو وي، ترې ګټه واخیسـتل شي. په سـیمه کې د پوله تیریدونکـو اوبـو حقوقـي چوکاټ پـه قوي کېـدو سره د دې احتمـال ډېرېـږي چـې افغانسـتان وکـولای شي پـه دوه اړخیـزه او څـو اړخیـزه مذاکراتـو کـې خپـل ځـای تثبیـت کـړي. (فهیـم, ۲۰۱۷)

ه – د افغانسـتان لـه اوبیـزو ګاونډیو څخه یـوازې ازبکسـتان د دې کنوانسـیون غړیتـوب اخیسـتی. کلـه چـې د ملګـرو ملتونـو پـه عمومـي اسـامبلۍ کـې د دې کنوانسـیون پـر سر رایـه اچونـه روانـه وه، پاکسـتان او ازبکسـتان دواړه هلتـه ممتنـع رایـه ورکـړه؛ ازبکسـتان وروسـته خپـل لیدلوری تغیـر او د ۲۰۰۷ کال پـه سـپټمبر کـې یـې عضویت واخیسـت. ایـران پـه رایـه اچونـه کـې مثبتـه رایـه ورکـړه. افغانتسـان، تاجکسـتان او ترکمنسـتان د رایـه ورکونـې پـه وخت کې نـه وو. بالاخـره کنوانسـیون پـه ۳ مخالفـو رایـو او ۲۷ ممتنـع رایـو او ۱۰۳ موافقـو رایـو تصویـب شـو.

جالبـه دا ده چـې ازبکسـتان پـه سـیمه کـې یـو له فعالـه هېوادونو څخـه دی چې د ګـډو سـیندیزو حـوزو پـه ځانګـړې توګه آمـو سـیند پـر سر لـه ګاونډیـو سره د اوبـو منابعـو تخصیـص پـه برخـه کـې اړیکـې نیولـې دي. دا هېـواد د آمـو سـیند اوبـو تـه شـدیده اړتیـا لـري او د دې حوزې ۸۰ سـلنه اوبه اسـتعمالوي. افغانسـتان هم د ورتـه ګام اخیسـتلو پـه صورت کې کولای شي لـه ترکمنسـتان او نـورو ګاونډیـو سره مذاکراتـو تـه داخل شي، څـو ورڅخه ګټه واخلـي. دلیل یې دا دی چې افغانسـتان کـولای شي د کنوانسـیون ٦مـې مـادې پـه اسـتناد مهمـو فکتورونـو تـه پـه کتـو د خپلـې حقابـې غوښـتونکی شي. د چـارو کارپوهانـو پـه خبـره، افغانسـتان تر اوسـه لـه آمـو سـیندیزې حـوزې څخـه د خپلـې حقابـې مطابـق ګټـه نـه ده اخیسـتې. دلیـل یـې دا دی چـې هـم د شـوروي پـه دور او هـم وروسـته کـې (د آلماتـا تـړون ۱۹۹۲) کـې د افغانسـتان لپـاره معقـول سـهم پـه نظر کـې نـه دی نیولی شـوی. د منځنـۍ آسـیا هېوادونـو لپـاره د اوبـو تخصیـص ۵٦٦ نمبر پروتوکول وړاندوینه ښـیي چـې آمو سـیند پـه اوسـط ډول ۷۰ میلیـارد مترمکعبـه د اوبـو کلنـۍ جریـان لـري. دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې واقعـي مقـدار اوبـه لـه ٦۴ – ٦۷ میلیـارد مترمکعب پورې رسـېږي. پر دې سربېره، اقلیمـي څېړنـې ښـیي چـې پـه راتلونکي کـې بـه دا مقـدار هـم د پـام وړ بدلـون مومـي. پورتنـۍ پروتوکول د اوبو کمښـت پـه وخـت کـې د حقابـې تنظیـم تجدیـد نظـر لپـاره څـه احـکام نـه لـري. (دران م. ت., ۱۳۹٦) ۵٦٦ نمبـر پروتوکـول

د نوموړي پروتوکول پر اساس افغانسـتان تـه یـوازې ۲.٦ میلیـارده مترمکعـب اوبـه د کلنیـو ضایعـو پـه خاطـر پـه نظر کـې نیـول شـوې دي. دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې شـاوخوا ۲۰ میلیـارد مترمکعب اوبـه د افغانسـتان لـه لـوري آمـو سـیند تـه بهیـږي. همـدا راز په دې کنوانسـیون کـې د چاپیریـال سـاتنې لپـاره کومـې اوبـې پـه نظر کـې نـه دي نیـول شـوې. پورتنـي وضعیـت تـه پـه کتـو، کـه چیرې افغانسـتان لـه خپلـو نـورو اوبیـزو ګاونډیو څخـه مخکـې دا کنوانسـیون تصویـب کـړي، ښـکته پراتـه اکثـره ګاونډیـان هـم دې چـارې تـه تشـویق کیـږي. دا پـه دې مانـا چـې افغانسـتان پـه سـیمه کـې د یـوې حقوقـي اډانـې رامنځتـه کولـو لپاره مخکښ او د حقوقـي چوکاټ پـه شـتون کـې د منازعاتـو او خشـونت توسـل ته یې کمـه زمینـه مسـاعده کـړې ده.

دوام لري...



# شي جين پينګ: د چين او افغانستان ترمنځ اړيکو ته په درنه سترګه ګورم

لیکنه: زرينه- د چين نړيوالې راډيو خبرياله




د اګست ۱۸ مه د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخيستلو له ۱۰۱مې کليزې سره برابره ده. ۱۰۱ د چينايانو په نظر يوه نېکمرغه او بختوره شمېره ده او د نړدې ملګرو ترمنځ د تلپاتې او ټينګې دوستۍ معنا لري. د چين د دولت رييس شي جين پينګ په همدې ورځ د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني ته د دې کليزې په مناسبت د مبارکۍ پيغام واستاوه او پکې يې ليکلي، اوسمهال د افغانستان سولې بهير په تاريخي پړاو کې قرار لري، باور لرم چې ښلابېل افغان قومونه به د ولسمشر محمد اشرف غني تر مشرۍ لاندې خامخا ستونزې او ننګونې لرې کړي او ژر تر ژره به په خپل هېواد کې سوله، ثبات، پرمختګ او سمسورتيا رامنځته کړي.
د يادې کليزې پر رارسېدو سربېره، اوسمهال د افغانستان د سولې بهير هم په مهم پړاو کې دی، نو په دې مهم وخت کې د چين د لوی مشر ياد پيغام د دواړو هېوادونو ترمنځ د لرغوني دوستۍ او ستراتېژيکو همکاريو او ښو اړيکو ښودنه کوي.
شي جين پينګ تل د چين او افغانستان دوستۍ ته په درنه سترګه ګوري. د دواړو هېوادونو د مشرانو تر ګډې پاملرنې او لارښوونې لاندې د دواړو هېوادونو اړيکو ډېر سالم پرمختګ کړی او دغه دوستانه اړيکې د کرونا وبا پر وړاندې په روانه مبارزه کې ښې څرګندې او لانږدې شوې دي. شي جين پينګ په تېرو ډېرو کلونو کې په ښلابېلو مواردو کې هم د افغانستان له مشرانو سره د ليدنو پر مهال د دواړو هېوادونو د دوستانه اړيکو په اړه يادونه کړې او تل يې ټينګار کړی چې هغه غواړي د افغانستان له رهبر سره يوځای د دواړو هېوادونو د ستراتېژيکو همکاريو دوستانه اړيکو ته وده ورکړي، څو د دواړو هېوادونو خلکو ته زياتې ګټې ورسوي.
سږکال د نوي چين د جوړېدو ۷۱ مه کليزه او د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخيستلو ۱۰۱ مه کليزه ده، دواړو هېوادونه له پخوا بهرنيو د اشغالګرو پر وړاندې د مقاومت او له خپلې خاورې څخه د دفاع لپاره د جګړې تجربه لري او نن د سوله‌ييز پرمختګ د هڅولو لپاره هم يو د بل ملاتړ کوي، باور لرو چې د دواړو هېوادونو اړيکې به د دواړو مشرانو تر ټينګې لارښوونې لاندې، د يو کمربند او يوې لارې په ګډه ابادۍ او د انسانانو د ګډ برخليک ټولنې په جوړولو کې زيات پرمختګ ومومي او د دواړو هېوادونو خلک به له تګ راتګ او ګډو همکاريو څخه زياتې ګټې ترلاسه کړي.
انځورونه:
د ۲۰۱۹ ز کال د جون په ۱۳ مه شي جين پينګ او محمد اشرف غني په بيشکېک کې سره وکتل. شي جين پينګ محمد اشرف غني ته د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخيستلو د ۱۰۰ مې کليزې په مناسبت مبارکي ووېله او هيله يې وښودله چې په افغانستان کې ژر تر ژره سوله، ثبات او پرمختګ راشي. نوموړي همدارنګه زياته کړه چې چين د افغانانو تر مشرۍ او حاکميت لاندې د سولې او روغې جوړې له بهير څخه ملاتړ کوي او په پرله پسې توګه به له بېلابېلو لارو د افغانستان سولې په خبرو کې مرسته کوي او د بين الافغاني مذاکراتو د پيل لپاره به مرسته برابره کړي.
د ۲۰۱۸ ز کال د جون په ۱۰مه شي جين پينګ د چين په چينګداو ښار کې له محمد اشرف غني سره د خبرو اترو پر مهال ووېل چې له افغانستان سره د لرغونو دوستانه اړيکو ټينګول او پرمخ بيول د چين نه بدلېدونکې پاليسي ده.
د ۲۰۱۷ ز کال د جون په اتمه شي جين پينګ او محمد اشرف غني په استانا کې سره وکتل. شي جين پينګ په دغه کتنه کې ووېل، د چين او افغانستان ترمنځ اړيکو په ښه توګه پرمختګ کړی، په ښلابېلو برخو کې د دواړو خواوو ګډې همکارۍ ژورې شوې او د يو کمربند او يوې لارې په ګډه ابادۍ کې ډېرې لاسته راوړنې لري. چين د افغانستان په اړه پر دوستانه تګلارو ټينګار کوي.
د ۲۰۱٦ ز کال د جون په ۲۴ مه شي جين پينګ او محمد اشرف غني په تاشکند کې سره وکتل. شي جين پينګ په دغه کتنه کې پر دې ټينګار وکړ چې چين د افغانستان د بيارغونې او سولې له بهير څخه ملاتړ کوي.
د ۲۰۱۵ ز کال د جولای په ۱۰ مه شي جين پينګ او محمد اشرف غني په روسيه کې سره وکتل. هغه کال د چين او افغانستان ترمنځ د سياسي اړيکو د ټينګېدو ٦۰ مه کليزه وه او دغه کال يې د چين او افغانستان د دوستانه همکارۍ کال په نوم ونوماوه.
د ۲۰۱۴ز کال د اکتوبر په ۲۸ مه شي جين پينګ په بيجېنګ کې د افغانستان له ولسمشر محمد اشرف غني سره وکتل. ښاغلي اشرف غني د افغانستان د ولسمشر په توګه له ټاکل کېدو وروسته لومړی چين ته سفر وکړ او د نوموړي د دغه سفر پر مهال دواړو هېوادونو د خپلمنځي ستراتېژيکو همکاريو د اړيکو د ژورولو په اړه ګډه اعلاميه خپره کړه .
د ۲۰۱۳ ز کال د سپټمبر په ۲۷ مه شي جين پينګ په بيجېنګ کې د افغانستان د وخت له ولسمشر حامد کرزي سره وکتل. له خبرو اترو مخکې شي جين پينګ په تيان ان من ميدان کې د ښاغلي حامد کرزي د هرکلي مراسم ترسره کړل.

# د خپلواکۍ ۱۰۱مه کلیزه؛

## د خپلواکۍ جشن په ګڼ شمېر ولايتونو کې په شاندارو مراسمو ونمانځل شو



سره له دې چې په هېواد کې د کرونا ويروس د پراختيا او نا امنيو وېره وه، خو افغانانو د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې د خپلواکۍ ۱۰۱مه کليزه په خورا شاندارو مراسمو ونمانځله. د راپورونو له مخې، په ځينو ولايتونو کې وړې امنيتي پېښې شوې دي، خو دومره تلفات يې نه لرل او افغان ولس په ډاډمنه فضا کې د خپلواکۍ د بېرته اخيستو کليزه ونمانځله.
پرون سهار په ملي دفاع وزارت کې د دې تر څنګ ولسمشر غني، پخواني ولسمشر حامد کرزي، د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکتر عبدالله، ناټو او ان طالبانو هم د خپلواکۍ پر کليزه ښلابېلې اعلاميې خپرې کړې وې. د ګڼو هېوادونو ولسمشرانو هم ولسمشر غني ته د دې ورځې مبارکي را استولې ده.
استقلال منار ته د ګلونو په اېښودو ولسمشر غني د خپلواکۍ ۱۰۱ مه کليزه ونمانځله. په دغو مراسمو کې د حکومت لوړپوړو چارواکو ګډون کړی و او ولسمشر غني د استقلال منار ته د ګلونو په اېښودو د دې ورځې نمانځنه پيل کړه. له دې ورځې پوره ۱۰۱ کاله مخکې مقتدر افغان پاچا غازي امان الله خان د افغانستان خپلواکي واخيسته او هېواد يې د انګريز له تسلط آزاد کړ. هغه مهال يې په خپلو مترقي افکارو غوښتل په هېواد کې د پرمختګ او لا پياوړتيا لپاره کار وکړي، خو د انګريزي ښکېلاک د مل کسانو او استعماري فکر د دې اجازه ور نه کړه چې خپلو چارو ته ادامه ورکړي او حکومت يې سقوط وکړ.
په همدې مناسبت د هېواد په ۳۴ ولايتونو کې شانداره جشنونه جوړ شوي وو. افغان ولس له امنيتي ګواښونو او د کرونا ويروس له خطر سره سره د خپل هېواد خپلواکي ونمانځله او په ځينو ولايتونو کې د افغان ځواکونو نظامي نمايش هم ترسره شوی دی.
په کابل کې هم له دې ورځې توده نمانځنه وشوه او موټريزو کاروانونو د افغانستان ملي بيرغونه لېږدول.
له دې ورهاخوا د نړۍ ګڼو هېوادونو افغان ولسمشر ته د پيغام له لارې افغانانو ته د دې ورځې مبارکي ورکړې ده. د چين ولسمشر شي جين پينګ افغان ولسمشر ته په استولي پيغام کې ويلي چې چين او افغانستان په خپلو کې پوره ٦۵ کاله حسنه ديپلوماتيک روابط پاللي دي. د ده په خبره، ټول افغان ولس ته خپلواکۍ د بېرته اخيستلو په مناسبت مبارکي وايي او د دې غوښتونکی دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې لا پراخې او غښتلې شي. ولسمشر شي همدا راز ويلي چې د افغانستان د سولې په پروسه کې به همکاري کوي او تمه لري چې دلته اوږده جګړه ژر پای ته ورسېږي.
د هند لومړي وزير نرېندرا مودي هم ولسمشر غني ته د خپلواکۍ د ۱۰۱ مې کليزې مبارکي ورکړې ده. د روسيې ولسمشر ويلاديمير پوتين هم په يوه پيغام کې د دې ورځې مبارکي افغانانو ته ورکړې او تمه يې ښودلې چې ژر تر ژره په افغانستان کې روانه جګړه پای ته ورسېږي.
د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان هم په يوه پيغام کې ويلي چې د افغانستان ملت ته د خپلواکۍ مبارکي وايي او تمه لري چې ژر تر ژره په افغانستان کې روانه جګړه پای ته ورسېږي. د دې تر څنګ افغان چارواکو هم په دې اړه څرګندونې کړې دي. د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله ويلي، تمه ده چې د افغانستان ۴۲ کلنه جګړه ژر تر ژره د خبرو له لارې پای ومومي او افغانان روښانه راتلونکې ولري. د ده په خبره، د خپلواکۍ اخيستل د نيکونو وياړ دی او اوس به سوله د دې نسل وياړ وي.
بلخوا طالبانو بيا ويلي چې امان الله خان يو استعمار ختم کړ او طالبان د امريکا ناکامولو ته نږدې شوي دي. دوی ټينګار کړی چې په جګړه کې بريالي دي او امريکا يې په شا کړې ده. بلخوا په کابل کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر هم د مبارکۍ تر څنګ ويلي، تمه لري چې ژر تر ژره بين الافغاني خبرې پيل شي او روانه جګړه پای ته ورسېږي.
بلخوا د خپلواکۍ د جشن د نمانځې پر مهال ځينې امنيتي پېښې هم شوې دي. له دې ډلې په کابل کې پر څو حوزو ۱۴ راکټې بريدونه وشول چې لس ملکيان پکې ټپيان شول. د بريدونو مسووليت هم چا نه دی منلی.

# ټرمپ: د بېلاروس ناوړه وضعيت څارو، د اړتيا په وخت کې به اړين اقدامات وکړو


د امريکا متحده ايالتونو ولسمشر ډونالد ټرمپ په بېلاروس کې روان وضعيت ناوړه بللی او ويلي دي چې واشنګټن به دغه وضعيت په پوره غور سره وڅاري او د اړتيا په وخت کې به اړين اقدامات وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې په بېلاروس کې د اګسټ مياشتې د نهمې د ولسمشرۍ تر لانجمنو ټاکنو وروسته په دغه هېواد کې پراخ لاريونونه روان دي.
د ياد هېواد د ټاکنو کمېسيون ويلي چې دغه ټاکنې په لوی اکثريت سره الکساندر لوکاشينکا ګټلې دي، خو اپوزېسيون ويلي چې په دغو ټاکنو کې درغلي شوې او لارو او سړکونو ته د لاريونونو لپاره راوتلي دي. دوی د پوليسو له سختو فشارونو او دغه‌راز د زرګونو لاريونوالو له نيول کېدو سره سره، د لوکاشينکا د لرې کېدو لپاره خپل غږ پورته کوي.
د بېلاروس په ټاکنو کې سوتلانا څيخانوفسکايا د اپوزېسيون نومانده وه چې د ټاکنو د پايلو تر اعلان وروسته لېتوانيا ته وتښتېده.
نوموړې په يوه تازه وېډيويي پيغام کې لوکاشينکا ته په خطاب کې ويلي: «موږ يو موټي يو. ته بايد پوه شې، موږ به دې په هغه صورت کې ومنو، که ارادې دې پاکې وي او په صادقانه ډول پښېماني وښيې.»
په ورته وخت کې د د دغه هېواد ولسمشر الکساندر لوکاشينکا په پلازمېنه مېنسک کې د ټراکټورونو د کارځای کارګرانو ته په وينا کې ويلي: «تاسو د غير عادلانه ټاکنو خبره کوی او عادلانه ټاکنې غواړی؟» په دې وخت کې د خلکو له منځ څخه يوه سړي ووېل، هو داسې ټاکنې چې ته پکې نه‌يې. لوکاشينکا يې په ځواب کې ووېل: «زه دا پوښتنه ځوابوم، موږ ټاکنې وکړې تر هغو چې زه مو مړ کړی نه‌يم، نورې ټاکنې به نه کېږي.»
خو لوکاشينکا څو شېبې وروسته خپله خبره بېرته واخيسته او ويې‌ويل چې په بېلاروس کې نوې ټاکنې په هغه صورت کې ممکنې دي، که نوی اساسي قانون تصويب او توشېح شي. دا په داسې حال کې ده چې نوموړي روانه اونۍ په خپل هېواد کې د وضعيت د کنټرولولو لپاره د روسيې له ولسمشر ولاديميرپوتين څخه د مرستې غوښتنه وکړه. هغه له پوتين سره تر ټليفوني خبرو وروسته وويل چې خپل روسيې سيال يې په بېلاروس کې د روان سياسي کړکېچ د کنټرول لپاره ورسره د هر ډول همکارۍ ژمنه کړې ده.

## د کتــاب خبــري

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

**درېيمه برخه**
**ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!**
**یوویشتم څپرکی**




شبکه يي بازارموندنه د تجارت انقلابي او اوښتي بڼه ده. په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره ټولو خلکو ته دا موقع برابره شوې چې په شتمنۍ کې ونډه واخلي. په هغې شتمنۍ کې چې تر اوسه د ځينو محدودو او بختورو خلکو په لاسو کې وه. پر دې تجارت انتقاد کوونکي او ګوته نيوونکي هم شته. د هر تجارت په څېر په دې تجارت کې هم ځينې نامناسب او ناوړه خلک شته چې غواړي زر او په اسانۍ پيسې وګټي. خو د ماهيت او طرحې له مخې شبکه يي بازارموندنه خورا عادلانه او ډيموکراتيک نظام دی او له ټولنيز پلوه د شتمنۍ جوړولو مسئولانه نظام دی.

انتقاد کوونکي که هرڅه درته ووايي؛ خو شبکه يي بازارموندنه د وړو او تمه کوونکو خلکو لپاره نه ده. اصلاً که غواړئ په شبکه يي بازارموندنه کې شتمن شئ، نو د شتمنېدو يوازينۍ لاره مو له نورو سره په شتمنېدو کې مرسته کول دي. د جوړښت له مخې شبکه يي بازارموندنه د هغو خلکو لپاره غوره تجارت دی چې غواړي له نورو سره مرسته وکړي، کټ مټ لکه د توماس اډيسن او هنري فورډ انقلابي جوړښت. هغوی په خپل تجارت کې له نورو خلکو سره مرسته کوله. زه تمه بده نه ګڼم. لږه تمه او ځان خوښونه تل ښه وي. خو کله چې ځاني ګټه تر اندازې واوړي او خلک يې د نورو خلکو د له منځه وړلو په بيه خپلول غواړي، نو بيا بيخي بده ده. زما په اند ځينې خلک بيا ذاتاً سخاوتمن دي. او زموږ لاسته را وړنې او رضايت مرسته را سره کوي چې د نورو خلکو د را پرځولو پر ځای له هغوی سره مرسته وکړو.

په شبکه يي بازارموندنه کې د سخاوت احساس ته ارزښت ورکول شوی. د ځاني پرمختګ، د شتمنۍ پيدا کولو او د اقتصادي ازادۍ د پنځولو يوازينۍ لاره د تجارت له ملګرو سره بریالۍ مرسته ده.

په سپکېدو، وړيتوب او تمه شتمنېدای شې. په سخاوت او ښېې هم شتمنېدای شې. په دغو دوو لارو کې چې کومه لاره انتخابوې، ستا له داخلي ارزښتونو سره به خورا ډېره ورته وي. یانې ته چې په باطن کې څه ډول يې، هغسې لاره به انتخاب کړې.

### د سولې لپاره اقتصادي بنسټ

ما د ويتنام پر ځنګلونو الوتکې ګرځولې دي. دا چې جنګ څه شی دی، زه يې ښه تجربه لرم. په دې هم پوهېږم چې د جنګ يو لوی لامل بې عدالتي ده. څومره چې د شتمن او نېستمن ترمنځ فاصله زياته وي، هومره به د سولې امکانات کم وي. موږ کولای شو د سولې لپاره لاريونونه وکړو، ويناوې وکړو، د سولې په اړه د مطالعې لپاره کمېټې جوړې کړو او سولې ته پرمختګ ور کړو؛ خو سوله په دې نه راځي. سوله میلیونونو انسانانو ته د اقتصادي فرصتونو په برابرولو را تلای شي.

میلیونونو انسانانو ته اقتصادي فرصتونه که هر څومره لويه موخه هم وي، د شبکه يي بازارموندنې په مرسته دا کار هرو مرو کېدای شي.

اوس د شبکه يي بازارموندنې زيات شرکتونه د اقتصادي فرصتونو په برابرولو په ټوله نړۍ کې سوله خپروي. د شبکه يي بازارموندنې شرکتونه يوازې په لويو پلازمېنو کې پرمختګ نه دی کړی، بلکې زياتره يې په هغو هېوادونو کې دي چې د پرمختګ په حال کې دي او د میلیونونو خلکو د اقتصادي هيلو د پوره کولو لپاره په بېوزلو هېوادونو کې پرانيستل شوې دي. له بله اړخه، پخوانيو کمپنيو يوازې په هغو ځايونو کې کار کاوه چې شتمن خلک به اوسېدل.

هغه وخت را رسېدلی چې د ټولې نړۍ خلک يو ډول پرمختګ وکړي او يو ډول او شتمن شي. دا هغه وخت نه دی چې خلکو به سخت کار کاوه، شتمن به يې نور هم شتمن کاوه او خپله به نېستمن پاتې کېدل.

اوس هغه وخت دی چې بايد ته هم له دې فرصته ګټه واخلې.

یوویشتمې پېړۍ ته ښه راغلاست!

پــای

# د ابن خلدون مقدمه

◀ اکسوس کتابپلورنځی




د «ابن خلدون مقدمه» کتاب چې عبدالرحمن ابن خلدون ليکلی، په اتمه او نهمه هجري پېړۍ کې د اسلام پر ټولنيز او اقتصادي تاريخ بحث کوي. په دې وروستيو کې ياد اثر پښتو ته ژباړل شوی، چاپ شوی او ژباړې يې په مارکېټ کې ګرم بازار موندلی دی. د دغه کتاب پښتو ژباړه تکړه او د لسګونو اثارو درلودونکي محمدزبير شفيقي کړې ده، چې ټولټال نږدې په ۷۸۵ مخونو کې راټوله شوې ده.

دا اثر د ابن خلدون د تاريخ (کتاب العبر) مقدمه ده، چې په هغه کې پر مهمو موضوعاتو او مسايلو بحث شوی دی. کتاب العبر د نړۍ له مهمو تاريخي اثارو ګڼل کېږي، چې په اوو ټوکونو کې ليکل شوی دی. د ابن خلدون مقدمه وروسته خورا مهمه او مشهوره شوه، ان د يوه مستقل اثر ځای يې ونيو. د عبدالرحمن ابن خلدون د دغه مهم تاريخي او علمي اثر ژباړن، زبير شفيقي وايي، ياد اثر يې د ۱۴ مياشتو په اوږدو کې پښتو ته را ژباړلی، چې د ژباړې پر مهال په‌کې له خورا عجيبو موضوعاتو سره مخ شوی دی. د دغه اثر مطالعه په اوسني عصر کې بېل کيف او اغېز لري. پکار خو دا وه چې دا اثر وړاندې پښتو ته را ژباړل شوی وای، ځکه چې په اروپا کې په تحصيلي نصاب او اکاډميکو مرکزونو کې دقيقه سرچينه شمېرل کېږي.

زبير شفيقي زياتوي، د ابن خلدون مقدمه د علومو يوه ټولګه ده، دا علمي او تاريخي اثر د عبدالرحمن ابن خلدون يوه څېړنيزه، تحليلي او تنقيدي هڅه ده چې د خپل وخت حکومتونه، علوم او فنون يې په‌کې تر نظر تېر کړي دي.

ښاغلی شفيقي وايي، د ابن خلدون په دغه اثر کې د تاريخ، جغرافيې، ټولنپوهنې، ټولنيزو اړيکو، تر نجوم او ستوريو پېژندلو پورې، د نړۍ د مذاهبو، تر لويو امپراتوريو پورې د عروج او زوال لاملونه، د بشر د تاريخ لوړې ژورې، علوم او اړيکې په داسې بڼه ليکل شوې چې لوستونکي د ليکوال پر نبوغ اعتراف او فکر ته هڅوي.

د ابن خلدون مقدمې اثر يوه ستره ښېګنه دا بلل کېږي، چې نه يوازې په اسلامي نړۍ کې زيات لوستونکي لري، بلکې لا هم په لوېديځ کې د اکاډميکو بنسټونو يوه علمي او تاريخي سرچينه ده. د اکسوس کتابپلورنځي مسوول صفي الله ناصري وايي، زموږ تخنيکي ټيم ډېر وړاندې د دې کتاب د ژباړې په اړه سلا وکړه او بالاخره څو ورځې د مخه ياد کتاب په ۷۸۵ مخونو کې چاپ شو. دی وايي، که څه هم دا کتاب په نورو ژبو کې په دوو ټوکونو کې چاپ شوی، خو پښتو ژباړه يې په يوه ټوک کې په دوو برخو او ۴۰ فصلونو کې راټوله شوې ده.

ښاغلی ناصري زياتوي، کتاب په لوړ کيفيت چاپ شوی، وړاندې له چاپ څخه يې مينوالو دلچسپي ښودلې وه او په تېرو څو ورځو کې پر کابل سربېره د هېواد ډېرو ولايتونو ته رسېدلی دی. د ابن خلدون مقدمه د شرق د تاريخ او د شرقي فرهنګ په اړه بډای اثر دی. موږ دې ته متوجه کوي چې اسلامي هېوادونه په تېره شرق څومره غني فرهنګ او تمدن درلود او څنګه اوس له زوال سره مخ شوی دی. د تاريخ لوستل تل درس راکوي، نو د ابن خلدون مقدمه مهم تاريخي درس دی. عبدالرحمن ابن خلدون د مهمو شاهانو په دربار کې ناسته ولاړه لرله، هر څه يې وکتل او ټولو تاريخي اسنادو ته يې لاس‌رسی درلود. په لومړي سر کې يې پر تېرو مشهورو تاريخ ليکوالو نقد وکړ، د دوی اثارو ته يې ګوته ونيوه او وروسته يې د مسايلو حقايق بيان کړل. د ابن خلدون مقدمه د حقايقو پر همدې پيدا کولو بحث کوي. ابن خلدون پکې خپل نظريات، د پېښو تياره اړخونه او اړوند مسايل بيان کړي دي. د شرق مهمې تاريخي پېښې، د مسلمانانو حکومتونه، له غير مسلمانو هېوادونو سره جګړې، تمدن، پرمختګونه، علوم، فنون، هنرونه، روايتونه او په ځينو مواردو کې يې د مسايلو پراخ تحليل وړاندې کړی دی.

مينه وال کولای شي ياد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار په نورو لويو کتابپلورنځيو کې هم په مناسب قيمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Eleanor Oliphant A Novel | Gail Honeyman | ۲۸۰؋ |
| ۲ | Eleven Minutes | Paulo Coelho | ۱۵۰؋ |
| ۳ | I'm Ok  Your Ok | Thomas A. Harris | ۲۰۰؋ |
| ٤ | Influence the Psychology of Persuasion | Robert B. Cialdini | ۲۵۰؋ |
| ٥ | What Every Body is Saying | Joe Navarro | ۲۲۰؋ |
| ٦ | The Big Leap | Gay Hendricks | ۱۸۰؋ |
| ٧ | ?How Will You Measure Your Life | Clayton M. Christensen | ۲۰۰؋ |
| ٨ | Happier 10% | Dan Harris | ۱۸۰؋ |
| ٩ | Barking Up the Wrong Tree | Eric Barker | ۳۷۰؋ |
| ۱۰ | On The COMe Up | ANGIE THOMAS | ۳۰۰؋ |
| ۱۱ | Unfu*k Yoursel | Gray John Bishop | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | A Very Large Expanse of Sea | Tahereh Mafi | ۲۷۰؋ |
| ۱۳ | Every thing is Focked | Mark Manson | ۱۸۰؋ |
| ۱٤ | The Power of Positiv Thinking | Norman Vincent Peale | ۲۰۰؋ |
| ۱٥ | Educated A Memoir | Tara Westover | ۲۸۰؋ |
| ۱٦ | Advanced Reading Power | Beatrice S. Mikulecky  Linda Jeffries | ۳۰۰؋ |
| ۱٧ | Outliers | Malcolm Gladwell | ۱۷۰؋ |
| ۱٨ | Firt Love and Other Novellas | Samuel Beckett | ۱۲۰؋ |
| ۱٩ | Minutes 38 Seconds in this Strange World 10 | Elif Shafak | ۳۵۰؋ |
| ۲۰ | Life without Limits | Nick Vujicic | ۲۵۰؋ |
| ۲۱ | The Museum of Innocence | Orhan Pamuk | ۱۸۰؋ |
| ۲۲ | Mindwise | Nicholas Epley | ۱۸۰؋ |
| ۲۳ | Room A Novel | Emma Donoghue | ۱۸۰؋ |
| ۲٤ | BaPTISM OF FIRE A Novel | Andrzej Sapkowski | ۲۳۰؋ |
| ۲٥ | Talking to Strangers | Malcolm Gladwell | ۳۳۰؋ |
| ۲٦ | Rules for Life An Antidote to Chaos 12 | Rules for Life An Antidote to Chaos 12 | |
| ۲٧ | Steve JoBs | Walter Isaacson | ۳۸۰؋ |
| ۲٨ | UNFOLLOW Living Life on Your Own Terms | Dr Linda Papadopoulos | ۲۰۰؋ |
| ۲٩ | Snow | Orhan Pamuk | ۳۳۰؋ |
| ۳۰ | د ابن خلدون مقدمه | عبدالرحمن ابن خلدون/محمد زبير شفيقي | ۵۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ۴۵۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۷ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# هغه چلندونه چې جوړې بریالۍ او نېکمرغه کوي

ژباړه: عطامحمد میاخېل

بریا ته د رسېدو لپاره ډېرو زیاتو لاملونو ته اړتیا ده، ستاسو ورځنۍ کړنې په دې برخه کې مهم رول لري، هرومرو په دې باندې پوهېږی، چې بریا په غښتلې ارادې، ټینگ هوډ او ثابت قدمۍ سره ترلاسه کېږي.

که څه هم مینه ناک اوسېدل هم ډېر زیات ارزښت لري، دا ټول موارد د کاروبار د بریا مهم لاملونه گڼل کېږي او تاسو ډېرې زیاتې گټې ته رسوي، خو یو له هغو مهمو لاملونو څخه چې تر دې دمه مو ورته پام نه دی کړی، ستاسو گډ ژوند دی.

د یوه بریالي واده په لرلو سره نه یوازې له ژوند څخه مو خوند اخلی، بلکې د خپل ژوند په ټولو اړخونو باندې اغېز ښیندي.

د څېړنو پایلې څرگندوي، هغه فرد چې ورسره واده مو کړی دی، ستاسو په کاري بریا او دنده ییز رضایت باندې د پام وړ اغېز لري، د گډ ژوند د ښه شریک پر ټاکلو سربېره، ډېر نور کارونه هم شته چې کولای شی د هغو په تر سره کولو سره د خپل ژوند له شریک سره مرسته وکړی، چې بریالی ژوند ولري، دا کار ستاسو د اړیکو د پیاوړتیا سبب هم گرځي.

لکه څنگه چې تاسې پوهېږی په پورته جمله کې «ترسره یې کړئ» ډېر مهم دی. فکر او احساس ارزښت لري، خو عمل یانې هر هغه څه چې تر سره کوی، هغه هم تل او هره ورځ لا ډېر مهم دي. هغه څه چې تر سره کوی، «ورکول دي» نه «اخیستل.»

هغه کسان چې غواړي د خپل ژوند له شریک سره مرسته وکړي، څو بریالی واوسي او گډ ژوند لاپسې دوامداره شي، د یو بل لپاره لاندې کارونه تر سره کوي:

۱ـ له یو بل څخه د مرستې غوښتنه کوي

کله چې د خپل ژوند له شریک څخه د مرستې غوښتنه کوی، څو پېښې په هممهالې توگه رامنځته کېږي، په دې کار سره د خپل ژوند شریک ته دا ښکاره کوی، چې د هغو لاربنوونو ته ارزښت ورکوی، تجربه او مهارت یې منی او په هغه باندې اعتماد لری، ځکه چې په مرسته غوښتلو سره خپل زیان منونکی ښودلی. ښایي ستاسو په اند د مرستې غوښتنه آسانه کار تر سترگو شي، خو هغه مهال کار لا پسې سختېږي، چې شخصي مرسته وغواړی.

هغه کسان چې د بریالي واده په لټه کې دي، له خپل مقابل لوري څخه د مرستې غوښتنه کوي، هم په دې خاطر چې مرستې ته اړتیا لري او هم په دې خاطر چې پوهېږي د ژوند شریک یې د هغه/ هغې د مرستې په غوښتلو سره د درنښت، په ځان باندې د باور او ارزښمتن اوسېدو احساس کوي.

هغوی پوهېږي چې د خپل ژوند د شریک په ژوند کې یې توپیر رامنځته کړی دی او دا هماغه څه دي، چې ټول یې په لټه کې دي.

۲- ډېر زغم لري

زغم لرل یوه فوق العاده ښه تگلاره ده، څو نورو ته دا ښکاره کړو چې هغوی ته ارزښت ورکوو، د زغم څرگندول په مقابل لوري باندې د اعتماد د ښکاره کولو لپاره یوه لاره ده او له دې لارې د ژوند شریک مو پوهېږي، چې پرې باور لری. پر دې سربېره، د خپل ژوند شریک ته دا ښکاره کوی چې هغه ته څومره ارزښت ورکوی.

۳- د یو بل لپاره ښه بېلگه دي

په سېنټ لوییس کې د واشنگټن پوهنتون څېړونکي دې پایلې ته رسېدلي، هغه کسان چې د اعتماد او باور وړ د ژوند شریکان لري، ډېر پرمختگ کوي، په کارځای کې غوره کړنې لري، ډېره گټه تر لاسه کوي او دنده ییز رضایت یې هم ډېر دی، نو د پوه او د باور وړ د ژوند شریک لرل، د دنده ییز رضایت، د ډېرې گټې او په راتلونکي ژوند کې به مو د دنده ییزې لوړتیا سبب شي. دا قضیه هم د نارینه‌وو لپاره او هم د ښځینه‌وو لپاره صدق کوي.

۴- د خپل ژوند شریک ستایي او پرې پوهېږي

له موږ څخه هر یو ځینې کارونه په ښه توگه تر سره کوو، نو هر کس حتی پخپله موږ څو ښې مثبتې ځانگړتیاوې لرو او په همدې خاطر د ستاینې وړ یو.

هغه کسان چې هڅه کوي بریالی گډ ژوند ولري، کله وخت مخکې تر دې چې خپلې ښېگڼې ووینې، هغه په مقابل لوري کې وینې او دا مسئله داسې یو فرصت رامنځته کوي، څو د ژوند شریکان خپلو بالقوه وړتیاوو ته لاسرسی پیدا کړي.

۵- د یو بل ځانگړي حریم ته درناوی کوي

په دې ورځو کې هرڅه په مجازي فضا کې شریکېږي او تل د لایک او ټویټ کولو په لټه کې یو، ژوندونه د کیسه ییزو کتابونو په څېر دي، چې ټول کولای شي وې وینې او وې لولي. نن له هر وخت څخه ډېر په دې لټه کې یو، چې تر ډېره د نورو په اړه پوه شو؛ خو کله وخت اړتیا نشته چې په ځینو پوه شو.

کله وخت باید د ځانگړي حریم ډالۍ د خپل ژوند شریک ته ډالۍ کړو، د نه پوښتلو او نه پلټلو حریم، البته بیا هم اړتیا ده، چې هر وخت او هرځای کې چې مقابل لوري وغوښتل، د هغه په لاسرسي کې واوسو. په یاد مو وي، د ارزښت ورکولو لپاره اړتیا نشته، چې په هر څه باندې پوه شو.

٦- د هغو فرصتونو په لټه کې دي، چې د ژوند شریک یې نالیدلي نیولي دي

ټول انسانان د پرمختگ او بریا په لټه کې دي؛ کله نا کله دومره له ونو سره بوختېږو، چې ځنگل نه وینو.

هغه کسان چې د یوه بریالي گډ ژوند د تشکیل په لټه کې دي، د هغو فرصتونو د لټې لپاره یو وخت په پام کې نیسي، چې په احتمالي توگه د ژوند شریک یې له لاسه ورکړي دي. هغه نه یوازې ستاسو خوبونه وینې، بلکې هغو ته د رسېدو لپاره مو ملتیا کوي.

۷- خوشالي د خپل ژوند د شریک په بریا کې وینې

کاري ټیمونه بریالي کېږي، ځکه معمولاً پیاوړې غړې، هر څه د نورو د خوشاله کولو لپاره قربانوي. دا ډلې له هغو کارمندانو څخه تشکیل شوې، چې له یو بل سره مرسته کوي، د یو بل په دندو باندې پوهېږي او شخصي موخو ته په نه پام سره ډله ییزې بریا ته ارزښت ورکوي.

که له بریالیو کار رامنځته کوونکو څخه پوښتنه وکړئ: «آیا خوشالي مو د نورو په بریا کې پیدا کوی؟» په لوړ غږ سره هو وایي.

هغه کسان چې غواړي د ژوند شریک او گډ ژوند یې بریا ته ورسېږي، همدا کار کوي.

۸- ډېر رښتیني او صادق دي

کله وخت د رښتیني هیجان ښکاره کول، هغه هم هغه وخت چې هر څه ښه پرمخ ځي، ډېر سخت وي. کله وخت د رښتینې ناهیلۍ ښکاره کول، هغه هم د خپلو کړنو پر وړاندې، ډېر ستونزمن کار وي.

هغه کسان چې د بریالي گډ ژوند په لټه کې دي، په څرگنده توگه خپلې خوښۍ ښکاره کوي، په رښتینې توگه مهرباني کوي، په رښتینې توگه خپله اندېښنه څرگندوي او دغه راز په رښتینې توگه خپل انسان اوسېدل ننداري ته وړاندې کوي.


ستاسو د ژوند شریک له یوه انسان سره کورنۍ تشکیل کړې ده، نو د مهربانۍ له مخې انسان واوسئ؛ هماغه کس واوسئ چې یاست.

## سکاټ مېلر: ټولې خواوې دې په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر کمولو غور وکړي

په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر وایي، ټول اړخونه دې د تاوتریخوالي پر کمولو غور وکړي.

نوموړي د افغانستان د خپلواکۍ د بیاگټلو د ۱۰۱مې کلیزې په مناسبت د مبارکۍ په پیغام کې ویلي: «دا یوه غوره ورځ ده چې یو وار بیا د افغانستان د امنیتي ځواکونو او افغانانو د ملاتړ ژاډ ورکړو، د ټولو اړخونو لپاره ښه وخت دی، چې د تاوتریخوالي پر کمولو غور وکړي او پوځي اړخونه وکړای شي، د سولې لپاره سیاسي زمینه برابره کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني تېره ورځ د هېواد د خپلواکۍ د بیاگټلو د کلیزې په مناسبت په دفاع وزارت کې د خپلواکۍ څلي ته د گلونو گېډۍ کېښوده.



د افغانستان پخواني پاچا امان الله خان د ۱۲۹۸ لمریز کال د زمري پر ۲۸مه، د هغه وخت له برېټانیا څخه د افغانستان خپلواکي وگټله او دغه ورځ له هغې راهیسې په افغانستان کې لمانځل کېږي.

په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي چې هېواد یې د افغانستان ازادۍ او خپلواکۍ ته درناوی لري او دوی هیله لري چې افغانان په ازاده فضا کې هوسا ژوند ولري. نوموړي د افغانستان د خپلواکۍ د ۱۰۱مې کلیزې په مناسبت په پیغام کې ویلي، امریکا په افغانستان کې د روانې ۴۰ کلنې جگړې پای‌ته رسولو او په دغه هېواد کې یوه سیاسي جوړجاړې ته ژمنه ده او ډاډ ورکوي چې دا هېواد به بیا هېڅکله د امریکا او متحدینو لپاره یې په یوه گواښ بدل نه شي. پامپیو دغه راز زیاته کړې، په دې تاریخي شېبو کې چې افغانان سره راټول شوي او د تلپاتې سولې لپاره هڅې کوي، ټول هېوادونه باید د یوه خپلواک، متحد، ډیموکراټیک او پر ځان بسیا افغانستان لپاره خپلې گډې هڅې نورې هم زیاتې کړي.

## صدیقي: د طالبانو د نه ژمنتیا له کبله د بندیانو د خوشې کېدو لړۍ ځنډول شوې

افغان حکومت وایي، چې د طالبانو د پاتې بندیانو د خوشې کېدو لړۍ یې ځنډولې ده. حکومت وایي، که څه هم د طالبانو نږدې شپږ زره بندیان‌یې خوشې کړي، خو دغې ډلې لا هم پر خپلو ژمنو عمل نه‌دی کړی.

چارواکي وایي چې د بندیانو لړۍ یې ځکه درولې چې د طالبانو له بنده د حکومت پاتې اسیران نه‌دي خوشې کړي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي، اوس باید طالبان د حکومت پاتې اسیران خوشې کړي، خو نوموړي دا نه دي ویلي چې له طالبانو سره یې څو اسیران پاتې دي.

بل‌خوا د طالبانو د شپږو بندیانو د خوشې کېدو په تړاو د استرالیا او فرانسې له‌خوا د افغانستان له حکومت سره ځینې اندېښنې شریکې شوې دي. راپورونه وایي، دغه شپږ کسان د استرالیا او فرانسې د وگړو په وژنه کې دخیل گڼل شوي دي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي له اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس سره په مرکه کې ویلي، حکومت د ښه نیت له مخې د طالبانو په زرگونه بندیان خوشې کړل او د اوږدې مودې لپاره د جگړې په میدانونو کې په دفاعي حالت کې پاتې شول.

هغه زیاته کړې: «موږ ډېره زړورتیا وښوده. د سولې لپاره مو لوی اقدام وکړ او د طالبانو نږدې شپږ زره بندیان مو خوشې کړل، خو که بل اړخ ته وگورئ، طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه‌دی کړی.»

دا په داسې حال کې ده چې د مشورتي لویې جرگې د پرېکړې او د ولسمشر محمد اشرف غني د فرمان له مخې، باید د طالبانو ۴۰۰ بندیان خوشې شوي وای، خو له دې ډلې یې یوازې ۸۰ بندیان خوشې شوي او د پاتې نورو کسانو د خوشې کېدو لړۍ درول شوې ده.

صدیقي ویلي، د پاتې بندیانو په ډله کې ځینې یې خطرناک گڼل شوي چې د ده په وینا، نه‌یوازې افغانستان، بلکې نړۍ ته هم خطر پېښولای شي.

په ورته وخت کې طالبان بیا وایي، کله چې د دوی د ورکړل شوي لېست له مخې د بندیانو د خوشې کېدو لړۍ پای ته ورسېږده، په یوه اونۍ کې چمتو دي چې د سولې بین الافغاني خبرې پیل کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۹مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱۹مه | ۵۸۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳۹ | ۳۷ | ۳۹ | ۳٤ |
| ۱۸ | ۱۹ | ۲۱ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:٤۸ | لمر ختل ۰۵:۱۷ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰٦:۳۷ | ماخوستن ۰۸:۰۷

## نړۍ




## د کرونا چټکه پراختیا؛ په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۲۲ میلیونو واوښتې



په نړۍ کې د کرونا ویروس پېښې لاهم په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دي. د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې له ۲۲ میلیونو واوښتې. دغه راز د یادې وبا له کبله تر دې مهاله ۷۷۹ زره ۸۲۹ تنه مړه شوي او نږدې ۱۵ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس د کرونا ویروس تر ټولو ډېرې پېښې په امریکا کې ثبت شوې دي. په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د یاد ویروس ۱۱ زره ۴۸۵ مثبتې پېښې ثبت شوي چې له دې ډلې ۴۲۵ تنه مړه شوي دي. په دې سره په متحده ایالتونو کې د کرونا ویروس ټولې مثبتې پېښې پنځو میلیونو او ٦۲۳ زرو او ۵۱۲ ته رسېدلي او دغه راز ۱۷۴ زره او ۱۴۱ امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.

له امریکا وروسته برازیل، هند، روسیه او جنوبي افریقا په ترتیب سره دویم، دریم، څلورم او پنځم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي. په ورته وخت کې د امریکا د شمالي کارولینا پوهنتون، چې د امریکا په ډېرو معتبرو پوهنتونونو کې شمېرل کېږي، د دغه ویروس له کبله یې خپل ټول حضوري ټولګي بېرته رخصت کړي دي.

## اسراییل: پر متحده اماراتو د امریکا د اېف-۳۵ الوتکو د خرڅولو له هر ډول معاملې سره مخالف یو

د تل ابیب او ابوظبۍ ترمنځ د اړیکو له ښه کېدو سره هممهاله د اسراییل حکومت پر متحده عربي اماراتو د امریکا د اېف-۳۵ جنګي الوتکو د خرڅولو له هر ډول معاملې سره مخالفت ښودلی دی. د اسراییل لومړي وزیر بینیامین نتنیاهو ویلي چې په سیمه کې د اسراییل د پوځي قوت خوندي ساتل مهم دي، خو په بیت المقدس کې د امریکا سفارت او د متحده عربي اماراتو حکومتي استازو د اسراییل د حکومت د تازه بیان په تړاو څه نه دي ویلي. دا په داسې حال کې ده چې د اسراییل د یدیعوت اخرونوت ورځپاڼې خبر ورکړی چې د امریکا حکومت په پام کې لري چې پر متحده عربي اماراتو اف-۳۵ ډوله جنګي الوتکې خرڅې کړي. د دغې سترې پوځي معاملې خبر په داسې وخت کې خپرېږي چې متحده عربي اماراتو د امریکا په منځګړیتوب له اسراییل سره د اړیکو د ښه کېدو لپاره هڅې پیل کړې دي. د اسراییل د لومړي وزیر دفتر په یوې اعلامیې کې راغلي: «په خبرو کې له متحده عربي اماراتو سره د اړیکو د عادي کولو معامله، اسراییل په منځني ختیځ کې هر هېواد ته د وسلو او دفاعي ټکنالوژۍ د خرڅولو پر ضد خپل ثابت دریځ بدل کړی نه دی چې پوځي توازن ته زیان ورسېږي.»

## عبدالله اورکزی، قاضی القضات داعش شاخهٔ خراسان توسط نیروهای قطعات خاص امنیت ملی کشته شد




ریاست امنیت ملی می گوید که عبدالله اورکزی، قاضی القضات داعش شاخهٔ خراسان و مسئول حمله برمحبس ننگرهار کشته شده است.

این ریاست گفته است که عبدالله اورکزی، قاضی القضات داعش شاخهٔ خراسان ومسئول حمله برمحبس ننگرهار توسط نیروهای قطعات خاص ریاست امنیت ملی، کشته شد. در خبرنامهٔ ریاست امنیت ملی گفته شده است که عبدالله اورکزی قاضی القضات داعش شاخه ی خراسان ، مسئول پیشبرد جنگ نازیان واچین ولایت ننگرهاربوده است .

به نقل از این خبرنامه ،عبدالله اورکزی فتوا های بسیاری را علیه افراد ملکی صادرکرده است که ازجمله میتوان به فتوای سربریدن افراد ملکی ونکاح اجباری دختران غیرنظامی برای جنگجویان داعش اشاره کرد. اورکزی، با همکاری تخنیکی گروه طالبان مسولیت اجرای حمله برمحبس ولایت ننگرهار بتاریخ ۱۳ اسد سال روان را نیز داشته است. این درحالیست که درحمله افراد مسلح وابسته به گروه داعش بتاریخ ۱۳ اسد سالروان بالای محبس ولایت ننگرهار ۲۹ فرد ملکی و نظامی کشته شدند . ریاست امنیت ملی در اطلاعیه خود توضیح نداده که عبدالله اورکزی در کجا و چه وقت کشته شده‌است. عبدالله اورکزی، سومین فرد عمده گروه داعش است که در افغانستان بازداشت و یا کشته می‌شوند. پیش از این در ۱۲ ماه اسد ریاست امنیت ملی گفته بود که یکی از افراد کلیدی گروه داعش به نام «اسدالله اورکزی»، که به مسئول استخبارات این گروه بود، در ننگرهار کشته شده بود. اسدالله اورکزی به «قصاب داعش» مشهور بود به نام ضیاءالرحمان نیز شناخته می‌شد.


## ژوند

## هغه دنده پرېږدئ چې نه مو خوښېږي



که مو له دندې سم عواید نه لرې، درته په زړه پورې نه وي او د ژوند له سبک سره مو اړخ نه لګوي، ښه ده چې دنده مو پرېږدئ. دا سمه ده چې نن سبا د عادي دندې پیدا کول هم څه اسانه کار نه دی، خو یوه څه ته مو باید پام وي، چې کله مو دنده په زړه پورې نه وي، هغه ده چې ښه لاسته راوړنه هم نه شی ترې لرلی. خو که په یوه داسې کار بوخت شئ، چې ستاسو د خوښې وړ وي، د پام وړ عواید به لاس ته راوړی. که مو جبب خالي دی، کېدای شي دلیل یې اوسني شرایط او یا هم ستاسو کم کاري وي. خو که د کار په لټه کې شی او هڅه وکړی خپل ژوند بدلولی شی. یوازې ستاسو د ژوند لیدلوری کولی شي ستاسو ژوند بدل کړي او بس.

## پر وي چټ بندیز د آیفون خرڅلاو ٪۳۰ کمولی شي




امریکا غواړي د چین د ټولنیزو رسنیو په ځینو نورو کاریالونو هم بندیز ولګوي، خو پر وي چټ بندیز لګول به آیفون ته سخت مالي زیان ورسوي. یو راپور کې ادعا شوې چې پر وي چټ بندیز به د آیفون خرڅلاو کې د ٪۳۰ کمی لامل شي. دغه بندیز به د اپل کمپنی د نورو تولیداتو پر خرڅلاو هم ناوړه اغېز ولري او د ٪۲۵ کمی لامل به وګرځي. د اپل د تولیداتو پېژندل شوی کارپوه، چېنګ چي کیو، اپل انسایډر او مک رومرز کې خپاره شوي خپل راپور کې لیکلي چې وي چټ کاریال د چینایي کاروونکو لپاره ډېر زیات مهم دی او د اړیکو، د پیسو لېږد، انټرنیټي سوداګرۍ، سوشل سافټ وېیر، خبرونو لوستلو او نورو کارونو کې ترې ګټه اخلي. که چېرې آیفونونه دغه کاریال ونه لري او کاروونکو ته یې دښکته کولو اجازه ورنکړي، نو دا به د اپل پر خرڅلاو د پام وړ ناوړه اغېز ولري. مېنګ چي کیو وایي چې که چېرې پر وي چټ بندیز ولګول شي، نو دغه کاریال به په ټوله نړۍ کې د اپل اپ سټور څخه لرې شي او دا به اپل کمپنۍ ته ستره مالي ضربه ورسوي.

ماستر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af | 1515



عزیزي بانک
Azizi Bank